مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

عبدالباری جهانی

۲۰۲۱/۱۲/۰۲

# غزل

نور مي مه پوښته له حاله چي له کوم لوري راځمه
زه لار ورکی د ازل يم خپله ورکه لټومه

ما ته مه ښيه د هيلو په سراب کي دريابونه
زه له ژونده تښتېدلی خپل وجود کفن کومه

دا خو تا راته ليکلي پر تندي يوه سجده ده
اوس د ختو د خدايانو سجدې ځنګه ومنمه

په لحد کي به نارې کم چي منکر پر وعده نه يم
يوه مينه د جانان ده نوري ميني سوځومه

زه قسمت باغوان پيدا کړم پر ګلونو يې شيدا کړم
د خپل زړه په تورو وينو بڼ د سرو ګلو روزمه

چي له غېږ دي يم شړلی مځکي نه يمه منلی
اوس به چاته اوښکي توی کم اوس به کوم لوري ته ځمه

زړه مي شين دی له زاهده د خلوت له کوډ ګريو
نن ورځمه دا روژه مي په سرو ميو ماتومه

دلته اور د ژوندون مړ دی دلته ګرمه وينه نسته
ځم لمبې ځانته کرمه ځم زردشت را پاڅومه

زه پانوس يم زړه مي شمع جهاني رنګه بلېږم
هم تياره په لمبه سوځم هم مي ځان کبابومه

د ۲۰۲۱ کال د نومبر دېرشمه ويرجينيا.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ